# شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۹۰ ګڼه / دوشنبه ۱۵ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۷ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲٦ فبروری ۲۰۲٤ میلادي


## سرمایه گذاری یک صدوچهل میلیون دالری در معدن آهن پشتون زرغون هرات

مسوولان، ازسرمایه گذاری یک صدوچهل میلیون دالری برمعدن آهن ولسوالی پشتون زرغون هرات خبردادند.

قراراست ازاین میان، بیست درصد ازعواید این معدن، به بودجه ی امارت اسلامی افغانستان برسد.

مولوی فضل احمد منیب خاموش



رییس معادن و پترولیم هرات به آژانس باخترگفت» سی وشش معدن درهرات سروی شده و به قرارداد داده شده است که از این جمله سیزده معدن در برگیرنده مواد ساختمانی بوده و متباقی معادن نمک، آهن، مس، سرب و ذغال سنگ است. ص۵

### د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال:

# د ملت او حکومت ترمنځ همغږي او همکاري لا پراخه شوې



د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د میدان وردګو ولایت له یو شمېر قومي مشرانو او مخورو سره لیدنه کړې.

په دې لیدنه کې یادو قومي مشرانو او مخورو په بېلابېلو برخو کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې او پرمختګونه ستایلي او ویلي یې دي؛ اسلامي نظام د افغانانو هیله وه، چې له لسیزو وروسته پوره شوه.

دوی دغه راز له اسلامي امارت سره د هر ډول همکارۍ ډاډ هم ورکړی.

قومي مشرانو او علمای... ۵مخ

### غزه کې مړګ ژوبله؛

## ۱۰۰ زره فلسطینیان شهیدان او ټپیان شوي دي



غزه کې د اسرائیلو او فلسطیني جهادي ډلو په ځانګړي ډول د حماس غورځنګ ترمنځ روانه جګړه کې د فلسطینیانو د ټولې مرګ ژوبلې شمېر ۱۰۰ زره تنو ته رسېدلی، چې ۲۹ زره ۶۰۶ تنه په کې شهیدان او ۶۹ زره ۷۳۷ تنه په کې ټپیان شامل دي.

د شهیدانو او ټپیانو ډېره برخه ښځې، نجونې او ماشومان جوړوي.

دغه راز د اسرائیلو د بهرنیو چارو وزیر د دغه هېواد له ۱۴ ټلویزیوني شبکې سره په مرکه کې ویلي، چې د حماس د بشپړ له منځه وړلو پورې جګړې ته دوام ورکوي.

مخکې تر دې د دغه هېواد ځینو نورو رسنیو راپور ورکړی و، چې اسرایلي پوځ هڅه کوي، غزه کې له جګړې شاتګ وکړي.

### مولوي عبدالسلام حنفي:

## حکومتي چارواکي به هېوادوالو ته اسانتیاوي برابرې کړي

د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د پنجشیر له یو شمیر علمای کرامو سره لیدنه کړې.

علماوو د دې ولایت د اجتماعي او امنیتي وضعیت په اړه د ریاست الوزرا اداري مرستیال ته معلومات ورکړي.

دوی ویلي؛ په پنجشیر کې امنیت په بشپړه توګه ټینګ شوی دی او خلک په هوسا فکر خپلې ورځنۍ چارې او فعالیتونه پرمخ وړي.



دوی د مواصلاتي لارو، ښوونې او روزنې، روغتیا او د برېښنا موضوعاتو ته اشاره کړې او دغې برخې ته یې د اسلامي امارت د مسوولینو د ځانګړې پاملرنې غوښتنه کړې. ۵مخ

### سرپرست وزارت صحت عامه:

## حقوق کارکنان طبی مطابق داشته های علمی شان افزایش می‌یابد

سرپرست وزارت صحت عامه هنگام بازدید از شفاخانه های استقلال و یک صد بستردشت برچی گفت: ما در تلاش هستیم تا برای هموطنان ما در همه نقاط کشور خدمات صحی معیاری را ارائه کنیم.

دفتر مطبوعاتی وزارت صحت عامه دیروز با نشر این خبر گفته است: داکتر قلندرعباد سرپرست وزارت صحت‌عامه از عرضه خدمات صحی در ... ص۵



## فراه کې یو سړک بیا ورغول شو



د فراه ښاروالۍ مسوولین وایي، چې د یاد ولایت په مرکز کې د یو سړک د بیا رغونې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی.

د فراه ښاروال مولوي محمد ولي ادریس د باختر آژانس خبریال ته ویلي چې یاد سړک د ۵۶۰ مترو په اوږدوالي او ۲۰ مترو په سور د فراه ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه د ۲۳،۵ میلیونه افغانیو په لګښت د ۴ میاشتو په بهیر په پاخه او اساسي توګه رغول شوی دی.

نوموړي له ټولو خلکو، موټر چلوونکو او ښاري وګړو څخه د یاد سړک په بلوارونو کې د کرل شویو ګلانو د ساتنې غوښتنه هم وکړه.

په ورته وخت کې د فراه د ښاروالۍ ریاست د تخنیکي او مسلکي آمر انجینر شاه محمود جلالي د یاد سړک او... ۵مخ

## ایران په فرهنګي او تحصیلي بورسونو کې همکاري کوي




په کابل کې د ایران سفارت فرهنګي اتشه روح الله حسیني، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري له معین مولوي سعدالدین سعید سره وکتل.

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په دې کتنه کې چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت... ۵مخ

## لغمان کې ۲ چک ډیمونه جوړېږي



د لغمان ځایي مسوولینو د یاد ولایت په الیشنګ او دولت شاه ولسوالیو کې د ۲ چک ډېمونو د رغولو چارو د پیل خبر ورکړی دی.

د لغمان د الیشنګ ولسوالۍ په شمکټ او د دولت شاه ولسوالۍ په دره نزاري... ۵مخ

### سرمقاله

# د ملي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره د افغانیو ترویجول یو مهم شرط دی

جوته ده چې د اشغالګرو له خوا د راتپل شوې جګړې په موده کې زموږ پر هېواد خو را سختې سړې او تودې ورځې راغلې نو لکه چې بازارونه ونړېدل، کلي سپېره شول، سیاسي مرکزیت په خانۍ، بدماشۍ او ملکۍ بدل شو او د عام ولس ترمنځ د دښمنۍ او تعصب تخمونه وکرل شول، همداسې اقتصادي بنسټونه هم تالا ترغه شول- داچې د جنګ جګړو له امله د هېواد کورني پیداوار، تولیدات او صادرات تقریبا صفر ته راولوېدل نود ټول هېواد مالي اتکا یوازې هغو نغدو پیسو پورې تړلې وه چې یرغلګرو جهتونو به خپلو اجیرانو ته ورکولې- تردې چې د شوروي اشغال په زمانه کې خودوو ډلوته جلاجلا افغاني نوټونه چاپېدل چې دهماغو جعلي کاغذونو پرمټ به یې د نورو هېوادوالو د لاس تناکې او د خولې روزي خپل ځان ته جذبوله او بالاخره یې ارزښت هم دتوت پاڼو سره مساوي شو- د صلیبي شل کلن اشغال پروخت هم د هېواد ټول اقتصاد پر امریکایي ډالرو ولاړو- په دې توګه چې نه یوازې د اجیرې اداري نظامي او ملکي لګښتونه د امریکې او ناټو له خزانو پوره کېدل، په عام ولس کې هم د بېلا بېلو طبقو د غولونې لپاره د رشوت، تشویق او بوختولو په موخه کروړونه ډالر... ۵مخ


پر افغانستان له منځنۍ اسیا څخه سویلي اسیا ته د انرژۍ ترانزیټ اغېزې — ۲ مخ

عفو و گذشت از دیدگاه اسلام — صفحه ٤

ږیره د انسان مخ او پوستکي ته څه ګټه رسوي؟ — ۳ مخ

## جهادي خاطرې

# د امریکایي یرغل پیل!

## ۱۳۸۰/۷/۱۵ لمریز کال

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

د تخار ولایت د خواجه غار ولسوالۍ د هزار باغ سیمه کې د جګړې په لومړۍ کرښه کې و، دلته د کندهار د مرکزي جهادي مدرسې طالب العلمان د شهید قاري فیض محمد فیاض رحمه الله په مشرۍ کې مېشت و. همدلته د شمالي ټلوالې د ملیشو سره وخت ناوخت نښتې هم کېدې.

هاغه وخت د خبرونو د اورېدا لپاره یوازې راډیو وه زه د ماشومتوبه د راډیو سره ډېره علاقه لرم او تل جیبي راډیو راسره وي. سهار د لمانځه او وظیفې وروسته مې راډیو کوک کړه تر ټولو لومړی مې پر غوږ د وخت د فرعون(بش) دا اواز ولګېد«زما په قومانده زموږ ځواکونو پر افغانستان یرغل وکړ»

هوکې ! یرغل شروع شو، تر ټولو مخکې امریکایي ځواکونو له سمندره په کروز مېزائلو په ګڼو ولایتونو کې رادارونه او د مدافعې سیستم په نښه کړ. دوی له وړاندې د هېواد د ټولو حساسو اداراتو، پوځي مرکزونو، هوایي ډګرونو او د اسلحو د زېرمتونونو معلومات له مختلفو لارو راغونډ کړي و.

کله چې یرغلګر ډاډه شو چې نور د امارت د هوایي مدافعې تأسیسات له منځه ورل شوي نو په اطمینان یې د الوتکو په مټ درنې بمبارۍ پیل کړې.

د بمبارونو زیات تمرکز د هېواد په شمال ختیځ، شمال او شمالي سیمو کې د جګړې پر لومړیو کرښو وو، تر ټولو زیاته بمباري د بي۵۲ ډوله الوتکو لخوا کېدله چې ډېر لوی او درانه بمونه یې غورځول.

موږ ته یو وخت د پوهنتون استاد په درس کې ویل: امریکا یو ډول طیارې د بي۵۲ ډوله په نوم لري چې کله ټوله نړۍ یوه خوا او امریکا بله خوا وي بیا به نو کار ځنې اخیستل کېږي خو بدبختانه موږ د سر په سترګو وکتل چې ټوله نړۍ یوه خوا او خوار افغانستان په تنهایۍ کې وو... دوی په ډېر قساوت کار ترې واخیست.

د نظامي یرغل د پیل سره جوخت رسنیز او تبلیغاتي ډګر هم تود شو، د بي بي سي سهارنۍ خپرونې اضافه شوې امریکایانو د هوا له لارې هم تبلیغاتي دستګاوې فعاله کړې.

د بي۵۲ ډوله بم غورځوونکو پر اسمان وریځ جوړه کړې وه، بمونه یې دومره درانه او قوي و چې لسګونه کیلو مېټره لیرې په ښارونو کې یې دروازې او دریځې لړزولې او ماتولې. د بمبار د شدت سره د نظار شورا په غرو کې هم ساه ننوتلې وه، ښه راته یاد دي یو ځل یې د بنګې د پله سیمه کې برید وکړ، دا چې د طالبانو زړونه امریکایي بمباریو خوږین کړي و او هېڅ لاس یې نه ور رسیدی، نو په ډېر شدت یې د دوی تعرض پر شا وتمباوه او ګڼ شمېر جسدونه یې د جګړې پر ډګر پاته شول. بمبارونه اضافه کېدل او وضعیت ورځ تر بلې د خرابۍ خواته روان و.

یوه شپه درې بجې یو مجاهد غږ وکړ، چې قاري صاحب هدایت کړی چې ټول مجاهدین کښېنئ، اودس وکړئ او الله تعالی ته د دعا لاسونه لپه کړئ چې د مجاهدینو نه دا کړاوونه پورته شي. د مشرانو له خوا امر وشو چې تخار پرېږدئ او کندوز ته پر شاتګ وکړئ موږ هم کندوز ته راغلو او بیا راته وویل شول چې د خان آباد ولسوالۍ د ده ویران سیمې کمربند ته ولاړ شو چېرې چې مسئول حاجي علاوالدین اغا و. دلته هم ورځ تر بلې بمبارۍ اضافه کېدلې. یوه ورځ ډېره سخته بمباري وشوه چې یوه ډله مجاهدین تر خاورو لاندې شول او د ډېر کوښښ با وجود ملګري ونه توانیدل چې له خاورو یې راوباسي او هماغه ځای یې هدیره شوه.

# پر افغانستان له منځنۍ اسیا څخه سویلي اسیا ته د انرژۍ ټرانزیټ اغېزې

**څېړونکی : شفیق الله - ظاهر / څلورمه برخه**



**افغانستان او د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره اقتصادي اړیکې**

افغانستان له منځنۍ اسیا سره څه باندې ۲۰۰۰ کیلومتره پوله لري او د دغه هېواد ۸ شمالي او لوېدیځ ولایتونه له منځنۍ اسیا سره نښتي دي. له تاجیکستان سره ۱۳۴۴ کیلومتره پوله، له ازبیکستان سره ۱۳۷کیلومتره او له ترکمنستان سره ۷۴۴ کیلومتره پوله لري. تر ۲۰۱۸م کاله پورې د څلورو بندرونو له لارې افغانستان د منځنۍ اسیا له دریو هېوادونو سره مخامخ رسمي سوداګري او راکړه ورکړه کوله. تر لسو ډېرې نورې لارې هم تاجیکستان او ترکمنستان ته ورتېرې شوي او په سیمه کې شته امکاناتو ته په کتو سره به په راتلونکي کې په یو شمېر نورو بندرونو باندې هم رسمي تګ راتګ پیل شي.(عاصم ۲۰۱۸م)

منځنۍ اسیا د هر ډول طبیعي منابعو زېرمه بلل کېږي، چې مهم توکي یې تیل او ګاز دي، خو قیمتي فلزات لکه سره زر، سپین زر، مګنیزیم او یورانیم یې هم د یادولو وړ دي. د منځنۍ اسیا دغه پنځه هېوادونه د نړۍ د انرژۍ د ټولې زېرمې (نفت و ګاز) نږدې ۹ په سلو کې جوړوي، خو د تېلو د تولیدونکو هېوادونو په اتحادیه او اوپیک کې د دوی ونډه ډېره کمه ده،خو په دې وروستیو کې د ستر نړیوالو کمپنیو د پام وړ ګرځېدلي دي.

قزاقستان په منځنۍ اسیا کې یوازینی هېواد دی، چې د وارداتو په پرتله یې صادرات زیات دي او په تېرو دوو لسیزو کې یې په پرېمانه کچه انرژي بهر ته صادره او اقتصاد یې وده وکړه. دغه هېواد د ۲۰۱۶م کال د ارزونو پر اساس نږدې ۳۷ میلیارده بیلره ثابت نفت لري، چې د ټولې نړۍ د ثابتو نفتو څه باندې ۳ په سلو کې جوړوي.

ازبیکستان د منځنۍ اسیا زورور سیاسي هېواد دی، چې ولسمشر شوکت میرضایوف یې له لوېدیځ او افغانستان سره د اړیکو پراخولو ډېر لیواله دی، اشرف غني له پاکستان سره د ټرانزیټي ستونزو په زیاتېدو له ازبیکستان سره اړیکې پراخې کړې او د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۸م کلونو ترمنځ د تاشکند او کابل تجارت دوه برابره زیات شي.(عاصم ۲۰۱۸م) (یو بیرل په امریکایي سیستم کې ۱۵۹ لتره کېږي).

**تېل او منځنۍ اسیا:**

د بریټش پټرولیم د ۲۰۰۹م کال د احصایې پربنسټ منځنۍ اسیا په ورځ کې ۱۴۰۷۰۰۰ بېرله خام تیل صادرول، چې قزاقستان په کې له ټولو مخکښ او ۱۳۲۵۰۰۰ بیلره، ترکمنستان ورپسې په ورځ کې ۸۲۰۰۰ بیلره، ازبیکستان په ۲۰۰۶م کال کې ۱۱۴۰۰۰ بیلره، خو په ۲۰۱۶ م کال کې دغه کچه نیمايي ته راټیټه شوه او په ورځ کې یې ۵۵۰۰۰ تیل تولیدول. د نړۍ په کچه قزاقستان د تیلو ۱۴م نمبر ستر تولېدونکی هېواد او ترکمنستان ۳۵م نمبر ستر تولیدونکی هېواد دی.

قزاقستان په منځنۍ اسیا کې د ډېروسکرو د زېرمو له اړخه هم بډایه هېواد او په سیمه کې له روسیې وروسته د سکرو دوهم لوی تولېدونکی هېواد دی. په دې هېواد کې ۸۷ په سلو کې برېښنا د خصوصي سکتور له خوا تولیدېږي او د ۲۱ شرکتونو له خوا وېشل کېږي. په قزاقستان کې ۷۰ سلنه بریښنا له ډبرو سکرو ترلاسه کېږي او پاتې ۱۰ یې له تیلو، ۱۰ یې له ګازو او ۱۰ سلنه نوره یې له اوبو ترلاسه کېږي. په دې توګه دغه هېواد په کوردننه ترخپلې اړتیا د زیاتې انرژۍ د تولید وړتیا لري، چې که د سویلي اسیا هېوادونه یې د ترلاسه کولو هڅه وکړي په ارزانه بیه یې پېرلی او واردولی شي.(عاصم ۲۰۱۸م)

**د منځنۍ اسیا د تیلو نللیکې:**

د اتیارو- سمارا نل لیکه، چې د قزاقستان له اتیارو سیمې پیلېږي او د روسیې تر سمارا پورې د ۶۹۵ کیلو متره په اوږدوالی سره د ورځې د ۳۱۰ زره بیلره تېلو د لېږدولو وړتیا لري.

د کسپین نللیکه، چې د قزاقستان د تنګیز له سیمې پیل او د ۱۵۹۳ کیلومتره په اوږدوالی سره په تور سمندر کې د نوروسیسک بندر ته غزېدلی دی او د ورځې ۵۶۵ زره تیلو د لیږد وړتیا لري. په ۲۰۱۵م کال کې د دغې نللیکې د تیلو لېږد وړتیا څه باندې یو میلیون بیلره ته لوړه شوه.

کینکیک اورسک نللیکه، چې په ورځ کې ۱۳۰ زره بیلره تیل له قزاقستان څخه د روسیې تصفیه خانو ته لېږدوي.

د روسیې، قزاقستان، چین نللیکه، چې په ورځ کې ۲۰۰ زره بیلره خام تیل د ۲۸۹۶ کیلومتره په اوږدوالی سره لېږدوي. دغه نللیکه په پیل کې د قزاقستان او چین ترمنځ غزیدلې وه، خو وروسته روسیه هم ورسره یوځای شوه او روسي تیل هم ل دې نللیکې چین ته رسېږي.

د باکو- تفلس- جیحان نللیکه له اذربایجان څخه د ګرجستان د تفلس له لارې په مدیترانې کې د ترکیې د جیحان بندر ته غزیدلې، چې ۱۷۶۸ کیلومتره اوږدوالی لري او په ورځ کې څه باندې یو میلیون بیلره تیل لېږدوي او تر یو اشاریه اته میلیونه بیلره د زیاتېدو وړتیا لري.

د منځنۍ اسیا نللیکه، چې د قزاقستان تیل به د ترکمنستان او افغانستان له لارې د پاکستان ګوادر بندر ته لېږدوي.(د انرژۍ نړیواله اداره۲۰۱۷)

د منځنۍ اسیا څه باندې ۷۶ سلنه خام تیل د هغو نللیکو له لارې بهر ته صادرېږي، چې له روسیې تیرې شوې،پاتې ۲۳ سلنه تیل یې د قزاقستان، ایران او قزاقستان، چین د نللیکو له لارې صادرېږي.

ګاز او منځنۍ اسیا:

منځنۍ اسیا د تیلو په پرتله د ګازو له اړخه ډېره د پام وړ ده. په ټوله منځنۍ اسیا کې د انرژۍ دغه ماده شتون لري، خو په لومړي سرکې ترکمنستان، بیا قزاقستان او په دریم نمبر کې ازبیکستان راځي. د برتانیې د تیلو شرکت بي پي د معلوماتو په اساس چې په دغه سیمه کې ټوټال څه باندې ۶ ټریلیون کیوبیک متره مکعب ګاز شتون لري. خو په ۲۰۱۴م کال کې په ترکمنستان کې د نویو زېرمو په کشفېدو سره دغه زیرمې نورې هم زیاتې شوې.(عاصم ۲۰۱۸م)

په دې برخه کې د منځنۍ اسیا له ټولو زیاته تکیه د روسیې له لارې په اروپایي مارکیټ ده او تر ۲۰۱۰م کال پورې یې ۹۹ سلنه کاز د روسیې له لارې بهر ته صادرېدل، خو په دې ورستیو کې له روسیې سره د اروپا د اړیکو لا ډېر خرابېدو سره د منځنۍ اسیا هیوادونو خپلې ګټې هم په خطر کې ولیدې اوپه بدیلو لارو یې فکر زیات کړ، چې دوی ته د چین سربېره له ټولو لوی او نږدې مارکیټ د افغانستان له لارې سویلي اسیا ده. (BBC نړۍ داوخت ۲۰۱۷م)

ترکمنستان د منځنۍ اسیا د ټولو هېوادونو ۷۰ په سلو کې ګازي زېرمې لري او په ۲۰۱۵م کال کې یې ۸۵ میلیارده کیوبیک متره مکعب ګاز صادر کړل او که د ټاپي پروژه عملي شي،نو به او سط ډول به یې ۳۰ میلیارده نور هم په کلني صادراتو کې زیاتوالی راشي. ترکمنستان د منځنۍ اسیا یوازینی هېواد دی چې شاوخوا ۷ نیم زره کیلو متره د ګازو نللیکې لري. (عابد۲۰۱۲م)

د منځنۍ اسیا د ګازو شبکې نللیکه له ترکمنستانه پیلېږي، د ازبیکستان او قزاقستان له لارې روسیې او له هغه ځایه اروپا ته د ۴۹۰۰ کیلومترو په واټن رسېږي او په کال کې ۶۰ میلیارد کیوبیک متره ګاز لېږدوي. د ترکمنستان او چین نللیکه ۶۶۹۶ کیلومتره په واټن د ترکمنستان له یولتان څخه پیل، د ازبیکستان له لارې قزاقستان او بیا چین ته داخلېږي، چې خورا اوږد واټن دی. دغه نللیکه په کال کې ۳۰ میلیارد کیوبیک متره ګاز لیږدوي، که دغه ګاز د افغانستان له لارې واستول شي، نو تر نیمایي یې واټن کمېږي. چین په همدې موخه له افغانستان سره ګډ کار پیل کړی دی.(عاصم ۲۰۱۸م)

# له شرعي نظره مهاجرت

احسان الله

د اسلام د حاکمیت پر مهال به چې کله مسلمانانو په یوه خاوره کې خپل دیني شعائر او مسوولیتونه نه شوای ترسره کولی او یا به یې ایمان او عقیده له ګواښ سره مخ وو، نو اسلامي قلمرو ته به یې مهاجرت کاوه؛ ترڅو په پوره امن او ډاډ سره خپلې دیني وجیبې ترسره او د اسلام تر حاکمیت لاندې ژوند وکړي. هجرت په اسلام کې خورا ستر مقام او ارزښت لري؛ له مکې څخه مدینې ته د رسول الله هجرت د یوه ستر انقلاب او ټولې نړۍ ته د اسلام د رسېدو او پر نړۍ د اسلام د حاکمیت لامل شو. همدارنګه په صحابه‌وو کې مهاجرین لوړ مقام لري، دوی د اسلامي دعوت د لېږد لپاره خپل ټول ژوند، شتمني، کورونه او خپلوان پرېښودل.

خو تر دوهمې نړیوالې جګړې او پر نړۍ د اسلام د ولکې له ختمولو وروسته پر غرب او کفري خاورو د مسلمانو پناه غوښتونکو څپې د توپان غوندې ورماتې شوې، چې لامل یې پر اسلامي خاورو د استعمارګرو او اشغالګرو کفارو حاکمیت دی او دوی خپله د مسلمانانو کډوالۍ ته لار هواروي. ستونزه د مهاجرت نه ده، بلکې د دې ښکارندې په اړه په مسلمانانو کې حاکم لیدلوری دی، چې زیاتره مسلمانان پناه غوښتنې ته خورا سخت لېوال دي او د ښه راتلونکې جوړولو، اقتصادي وضعیت د ښه والي، د ژوند له فشارونو او نورو کړاوونو څخه د تېښتې په موخه کډوالۍ ته مخه کوي او په غرب کې د کفر تر حاکمیت لاندې ژوند کولو ته ترجیح ورکوي. حتی غرب ته سفر او هلته ژوند کول د ډېرو مسلمانانو خصوصاً د ځوانانو د ژوند هدف او ستر ارمان ګرځېدلی دی! مسلمانان د دې پر ځای چې په اسلامي خاورو کې پاتې شي، له خیر او برکتونو یې برخمن شي او په هغو ټولنو کې ژوند وکړي چې وګړي یې مسلمانان دي که څه هم د شریعت ټول احکام په کې نه پلي کېږي، مګر بیا هم تر یوې کچې اسلامي فضا پکې حاکمه ده؛ ډېری یې په هغو ټولنو کې ژوند ته ترجیح ورکوي چې له اسلامي شریعت سره هېڅ تړاو نه لري او ډیموکراسي او سیکولرېزم ورباندې حاکم دي. دوی باید له ځانه وپوښتي، یو مسلمان څنګه چمتو کېږي چې د کفارو په منځ او د کفر او ډیموکراسۍ تر حاکمیت لاندې په غرب کې ژوند وکړي؟ هغه استعمارګر غرب او کفار چې عملاً له اسلام سره جګړه کوي او بالفعل محارب دي. په اسلامي خاورو کې له کلونو راهیسې د بې‌ګناه مسلمانانو وینې تویوي او د اسلام د حاکمیت مخه نیسي. مومن باید د دنیا پر ځای د خپل آخرت تشویش ولري او دنیوي ژوند ته د ابتلاء او امتحان له عینکو وګوري. په ژوند کې الله سبحانه وتعالی خپل ولي ونیسي، نه غرب او کفار. پر الله متعال توکل وکړي او خپلې چارې هغه ته وسپاري. د الله د ولي نیولو یو مظهر دا دی، چې د مومنانو په منځ او د ایمان په فضا کې ژوند وکړي. د خپل اهل او اولاد د آخرت په اړه تشویش ولري نه د دنیا؛ ځکه مسئولیت یې الله تعالی ده ته ورسپارلی دی:

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی خپل ځان او اهل (کورنۍ) مو له هغه اوره وساتئ چې سنتو کې یې انسانان او کاڼي دي. مګر منځلاري مسلمانان یا روښانفکران په غرب او د کفارو په منځ کې ژوند توجیه کوي او اسلام ته له سیکولرېزم سره تطابق ورکوي. دې مسئلې ته د ځواب په موخه دوی د اقلیتونو فقه رامنځته کړه. د دوی په نظر هغه مسلمانان چې په غرب کې اوسي، ټول مکلف دي چې خپل ځانونه له هغو ټولنو سره برابر کړي چې ژوند په کې کوي او د دغو ټولنو لکه اروپا، امریکا، استرلیا، کاناډا او نورو له اتباعو سره د ګډ ژوند کولو شرایط په پام کې ونیسي.

منځلاري مسلمانان چې په حقیقت کې د سیکولرېزم بدله نسخه ده او د اسلام پر وړاندې د جګړې لپاره د غرب یوه نقشه ده، باور لري چې غربمېشتي مسلمانان اړ دي، بلکې دا یې په ګټه ده چې ځانونه د دغو خاورو له اصلي اتباعو سره یو شان وګڼي، په دوی پورې د ترښت مسئولیتونه ادا کړي او په دغو هېوادونو کې د هستوګنې، ملیت او ښاروندی قوانینو پر اساس د خپلو حقونو دفاع وکړي او حتی خپل ځانونه پر دغه اساس ورباندې تحمیل کړي، چې د دغو ټولنو یوه نه بېلدونکې برخه ګرځېدلي دي؛ ځکه هغه ټولنې پر ډیموکراسۍ ایمان لري او هر څوک یې په هغه ازاده فضا کې چې د هر فکر لرونکو کسانو ته ځای لري، ازادانه او مساویانه ژوند کولی شي.

د دوی په باور او د اقلیتونو فقې پر اساس په غرب کې مېشت مسلمانان باید هېڅکله داسې الفاظ ونه کاروي چې د دښمنۍ مفاهیم او شرعي معناوې ورکړي؛ یعنې د مسلمانانو او کفارو تر منځ دښمني یوه ایډیولوژیکه دښمني نه، بلکې تاریخي هغه ده. د دوی په اند په غرب کې په مسلمانو سیاسونو، فرهنګیانو او ژورنالېستانو کې دغه اصطلاحات کارول لکه: کفار، جهاد، کافر غرب، دارالکفر، غرب د مسلمانانو دښمن دی، د غرب دروغجن ارزښتونه، چټل پانګوالي نظام، استعمارګره اروپا، کینه‌کښ سیکولرېزم، سودي اقتصاد، د اسلام حاکمیت او نور نه معقول دي او نه د منلو وړ! او دې ورته ډېرې نورې خبرې.

له شرعي نظره د کفارو په منځ کې ژوند په ځینو مواردو کې پر دین له منګولو لګولو سره په ټکر کې دی او په ځینو حالاتو کې حتی د مسلمانانو هویت ګواښي. داسې ګواښ چې کم اغېز یې د کفر په نظم په کې د وګړو ذوب کېدل دي، نه یوازې د چلند او اعمالو له اړخه، بلکې حتی د افکارو او عقایدو له نظره؛ ځکه اسلام یوازې عبادات او ځینې شعائر نه دي، چې په فردي توګه په کورونو یا د کفارو په خاورو کې په ځانګړو عبادتځایونو کې ادا شي؛ بلکې اسلام له ژوند څخه ټاکلی لیدلوری لري او باید بشپړ حاکم شي، ترڅو د تېر په څېر د اسلام پیغام ټولې نړۍ ته ورسوي. نو اوسمهال دغو مسلمانانو ته پر دین د منګولو لګولو یو اصل دا دی، چې باید داسې ځای ژوند وکړي له امت سره د اسلام د حاکمیت لپاره ګډه مبارزه وکړي او ښکته چې هغه اسلامي خاورې دي. د کفر تر حاکمیت لاندې د ژوند کم زیان دا دی چې د دغو لړکیو نړۍ‌لید هرومرو بدلېږي، خپل فرهنګي ارزښتونه نه شي ساتلی، له فکري او احساسي نظره له امته لرې کېږي او له سیاسي نظره په امت پورې په اړوندو قضیو کې د غربي دولتونو پلوي کوي. د وخت په تېرېدو خپله دوی او نور نسلونه یې اسلامي هویت له لاسه ورکوي او له خپل اصل څخه لرې کېږي. له فکري، سیاسي او حتی اقتصادي نظره له غرب څخه د دوی اغېزمنېدل امت ته ناوړه پایلې لري؛ ځکه دغه لړکي د امت درد او رنځ نور نه احساسوي؛ د کفري قوانینو پر اساس د غرب په طریقه د کفارو او سیکولرانو تر ولکه لاندې ژوند کوي او ښایي کفري دولتونه له مسلمانانو سره په مبارزه کې له دغو کسانو ګټه واخلي. دوی د غربي دولتونو تابعیت لري او له شرعي نظره دا خپله ستونزه لري. مسلمان باید داسې ځای ژوند وکړي چې شریعت اجازه ورکوي؛ خو هغه کسان چې له هېڅ توجیه او شرعي رخصت پرته غواړي په غرب کې یا له اسلامي خاورو بهر ژوند وکړي، باید پوه شي چې د اوسېدو لپاره یې داسې ځای ټاکلی چې نه د اسلام د رضایت وړ دی او نه د اسلامي دعوت لېږد دا غوښتنه لري.

# رېږه د انسان مخ او پوستکي ته څه ګټه رسوي؟

ژباړه: محمد تمیم تکل

رېږه ستاسو لپاره ښه ده؛ له رېږې سره د مخ د زړېدو پروسه ټکنۍ کېږي.

بن افلک، جورج کلوني، هیو جکمن، او سام منډس تمایل ښودلي چې رېږه پرېږدي.

ډېلي مېل : ډېرې ښځې دي چې له بې رېږو سره نه غواړي ملګرتیا وکړي.

مخکې له دې چې خپل خاوند(مېړه) ته وواياست چې پل(پاکې / ماشین) راواخلي؛ ښه به وي چې ښه فکر وکړئ؛ ځکه برېت او رېږه دواړه د نارینه د سلامتۍ لپاره ګټور دي.

**د لمر پر وړاندې ساتنه کوي:**

په وروستیو کې چې د University of Southern) (Queensland پوهنتون څېړنه په Radiation) (Protection Dosimetry مجله کې خپره شوې،ښيي چې د لمر د مضره وړانګو پر وړاندې محافظت کوي.

څېړونکو دا موندلې،چې د مخ هغه ساحې چې برېت یا رېږه په کې ده او مخ یې پټ کړی، په دغو خلکو کې د (UV) مضرې اشعې اثرات په متوسط ډول د هغو سیمو په پرتله یو پر درې کم دي چې هلته «خلک وېښتان نه لري»

دغې مطالعه کې له رېږورو(هغوی چې رېږې یې له یونیم تر درې نیم انچه وې) او بې رېږو څخه د پرتله په پار استفاده وشوه.

په یاده شوې مطالعه کې څېړونکو په هم مهاله توګه، د (dosimetric) تخنیکونو څخه په استفادې د اشعې میزان او د جذب ګراف دواړه محاسبه او مطالعه کړل.د دوی پایلو وښووده چې رېږه ۹۰ - ۹۵ سلنه د لمر پر وړاندې محافظت کوي.

په لندن کې د پوستکي یو متخصص ډاکټر، نېک لو (Dr Nick Lowe) وایي: په ټولیز ډول وېښتو کې د لمر ضد ډېره ښه وړتیا موجوده ده.همدغه دلیل دی،چې که د ښځې غاړې او د مخ دوه څنډې وېښته ولري یا دا چې په وېښتو سره وپوښل شي، هغوی به «لږ» زیان وویني.هغه زیاتوي چې؛ دلته یوه بله مسئله هم شته او هغه دا چې هر څومره د ضخامت او تراکم بحث مطرح شي هومره د (SPF) فکتور باندې هم اغېز ښندي.زه چې کله د کلیفرونیا په سویل کې کار کوم داسې ډېرې کلاسیکې نمونه یې وینم / لیدلي مې دي.هغوی چې وېښته نه لري لا ډېر د «سرطان» احتمالات په کې نسبتاً ډېر وي.

د مغز او اعصابو یو مرستیال ډاکټر (Iain Salli):

یوه بله نظریه دا ده چې د رېږې وېښته د لمر «اشعه» ماتوي.نور مستقیماً حرکت کوي یا مخامخ اثر کوي؛ خو چې کله له تاو تاو وېښتو سره ولګېږي هغه ماتېږي یا یې مسیر منحرف شي؛ همدا لامل دی چې د لمر مضرې وړانګې د مخ پوستکي ته نه رسېږي.لمر یوازې پوستکي ته زیان نه رسوي؛ د پوست لاندې ساحې هم تخریبوي او زیان ور اړوي، نو له دې امله چې د لمر د وړانګو مخنیوی وشو، د غاړې او زامې محافظت کې هم مرسته کېږي.د دغو دواړو ساتنه هم ورسره کېږي.

هغه خلک چې په مخ رېږې لري د دوکتور «لو» سپارښتنه ورته دا ده چې باید د لمر ضد کریم نه هم استفاده وکړي او کوښښ دې وکړي چې رېږه یې ډېره غوړه نه شي؛ ځکه زیاتره رېږې متراکمې نه وي.

ممکن د «نفس تنګۍ» له حملو څخه مخنیوی وکړي!

هغه خلک چې د خاورو او ګردونو له لاسه په تکلیف وي او دا یې د نفس تنګۍ مسئله کې شدت راوستلی شي؛ هغوی دې په رېږه او خصوصاً برېتونو کې مبالغه وکړي. لږ یې ښه ساتنه وکړي او برېتونه دې هم لږ لوی پرېږدي.چې د یادې شوې مسئلې مخنیوی تر یوه حده پورې شوی وي.د لندن د «وېښتو» یو متخصص(Rob Hicks) وایي چې د خاورو او ګردونه ذرات مایکروسکوبي دي.خاورې او ګردونه به د برېتونو په ناحیه کې سره راټول او جذب شي، اوس نو لږ وخت پاتې دی چې سږو ته ورسېږي، یوازې کافي ده چې یو مرطوب یا لوند لاسمال وي او برېتونه پرې وموښل شي هغه خاوره به پاکه شي او خطر به نه وي.

د لندن د کلینیک د «تنفس» د برخې یو متخصص (Dr Felix Chua) وایي:

برېت کولای شي، سږو او تنفسي سیستم ته د خطرناکو موادرو د دخول مخنیوی وکړي، دا یوه تیوري ده چې د پزې مخې ته برېت د مضره مواده مانع ګرځي.

**له زړېدو څخه مخنیوی**

د وخت په تېرېدو سره د مخ وېښته کولای شي د مخ پوستکی لا ځوان او په سختو شرایطو کې وساتي.د دوکتور لاو (Dr Lowe) په وینا وېښته د پوستکي محافظت کوي او خرابېدو ته یې نه پرېږدي. دا د وېښتو ریښه ده چې پوست یې تازه او مرطوب ساتلی وي.دا به ډېره ښه خبره وي چې معمولاً رېږه او برېت مرطوب وساتل شي.دا وېښته په پوستکي کې وي او وېښته ساده فولیکولونه لري چې دا خپله داسې عمل کوي؛ لکه یوه غوړه ماده چې وي او په نتیجه کې یې د پوستکي له خرابېدو څخه مخنیوی وشي.په هر ځای او ناحیه کې چې فولیکولونه موجود وي، که هغه ژامه وي، یا غاړه یا زنه بس له دې سره به پوستکي لا قوي او ضخیم شي.د دوکتور لاو په خبره چې څومره پوستکی ضخیم وي هومره به د زیانونو پر وړاندې مقاومت ډېر او لوړ وي؛ ان که یو څوک رېږه هم و نه لري خو چې پوستکی یې ضخیم وي د نورو په پرتله یې مقاومت ډېر وي.

له ټوخي سره مبارزه!

د (Carol Walker) په وینا د زنې لاندې او یا د غاړې شاوخوا ناحیو کې د رېږې وده د غاړې د تودوخې درجه لوړوي؛ له همدې امله د زکام په مقابل کې یو ښه او مؤثر فاکتور واقع کېدای شي.وېښته په خپل ذات کې انسان ګرم ساتي او د یخنۍ پر وړاندې یو «عایق» دی.دا زما تجربه ده او مریضان مې هم کتلي دي چې رېږه کولای شي د ټوخي ګراف راکم کړي. هغه خاصیت چې په رېږه کې دی، ناروغانو مې ویل چې بدیل وسایل یې موږ وکارول او ټوخی مو ورسره راکم شو.

ملاحظات او وړاندیزونه

د لندن د (Queen Mary) پوهنتون میکروبیولوژیست دوکتور رون کاتلر وایي که چېرې له رېږې ساتنه او ښه محافظت و نه شي ان بېرته همدا رېږه کولای شي د «عفونت» د خپرېدو لامل شي.

لازمه ده چې نارینه باید هر وخت متوجه وي چې خپلې رېږې پاکې، صفا او سوتره وساتي، منظمې یې کړي او وخت نا وخت یې خبر واخلي چې د وېښتو لاندې خو به باکتریاوو تجمع نه وي کړې. بله خبره دا ده چې له ډوډۍ او غذا وروسته باید فکر وشي چې د ډوډۍ اثار په رېږه یا برېتو کې پاتې نه شي. باید ژر تر ژره ومینځل شي او ښه صفا کړل شي. که نظافت مراعت نه شو او د صفایۍ خیال یې و نه ساتل شو؛ ممکن رېږه په خپله د امراضو د سرایت او ساتنې مرکز وګرځي. وروستۍ دا چې د نایي په انتخاب کې دقت پکار دی چې مستعمل وسایل پر موږ استعمال نه کړي چې دا هم یو لوی سبب دی د امراضو د سرایت او لېږد لپاره.

## مناجات

**محمدصادق طارق**

د زړه مـینه سـره لمـبه درخـخـه غـواړم
د وصـال مسـته شیبه درخـخه غـواړم

چې تندی مې سـتا په خاورو ښائسته شي
لـکه تاج چې پر تـندي بانـدې مـیلمه شي

ما عدم کړه چې مې زړه بیرته ژوندی شي
د قیـامت تـر ورځـې اوږد داغه ګـړی شـي

داسې مست مې کړه چې دار ته په خندا شم
زه منـصـور شـم ستا د عشـق په تـماشا شـم

د وجـود پـه ویـنو بـل اودس تـازه کـړم
تـول جـهان و دغـه راز ته نـذرانـه کـړم

دومره وخاندم چې دار راځخه هیر شي
سره لمبه او سور انګـار راځخه هیر شي

کـلـه غـم کـلـه فـراق راسـره مـل وي
سـتا د مینـې اشتیـاق راسـره مـل وي

د بیلتون زنځیر مې مه پرېږده په پښو کې
خـوند بـه نه وي په ولـچـک او زولـنـو کـې

خدایه خپله مینه زما په زړه کې کېږده
ای طـارقـه! مـجـازي مـیـنه نـو پـرېـږده

## سپینه کابله

**ارسلا مفتون /ابرار بهیر**

کابل بیا ځان ته په سپینو واورو خال ایښی دی
امنیت کـې یې بیـا بل رقـم مـثال ایښی دی

کوچېدلې ښکلاګانې پرې راټولې شـوې بیا
سـپین بیرغ د ازادۍ یې پـر جـمال ایښی دی

طالـب جان د جـوړېدو یې بیا قسم کـړی دی
قـوشتېپه د ګلو هـار یې پـر شمـال ایښی دی

د کونړ سیند اوبه به کړي را خپلې همیش
د دښمـن شومو پلانونو ته یې جال ایښی دی

د وطـن له سـپېرو کانو به سـره زر جـوړوي
په لاسو کې یې رب دومره لوی کمال ایښی دی

د مـفتون د ارزوګـانو غـوټۍ ګل ګل شـوې
د پامـیر پر سر یې تاج د اسـتقلال ایښی دی

# عفو و گذشت از دیدگاه اسلام

**مروت**



عفـو وگذشـت یکـی از فضیلـت هاوسرشـت هـای نیـک در رفتـار واخـلاق انسـانی است،کسـانی کـه خـودرا پـا بنـد احـکام خداونـد متعـال می‌داننـد انسـان هـای بـا گذشـتی هسـتند کـه از خطـا وگنـاه واشـتباه دیگـری چشـم مـی پوشـند عفـو بـه معنـی گذشـت از گنـاه وخطـای دیگـری وخـودداری از مجـازات خطـا کار وگناهـکار مـی باشـد.

هـر کسـی کـه بخواهـد مصـداق عناویـن بلنـد ومقامات والایـی چـون نیکـو کاری وشـکیبایی وپرهیـزگاری شـود واز محبـت وگذشـت الهـی برخـوردار گـردد ودر نـزد مـردم بـزرگ ومحبـوب شـود واز رحمـت خـاص خداونـدی وعنـوان محبـوب وحبیـب الهـی بهـره منـد گـردد، بایـد از ایـن راه سـود جویـد.

عفـو بـه معنـای کنتـرل ومهـار خشـم وعواطـف وچشـم پوشـی از حقـوق خـود اسـت وایـن موجـب مـی شـود تـا انسـان صبـر را در مقـام خشـم وغضـب تجربـه کنـد، تکـرار ایـن گونـه اعمـال در انسـان باعـث مـی شـود تـا صبـر وشـکیبایی در انسـان تقویـت شـود وآدمـی بـه پـاداش صابـران برسـد بـه ایـن معنـی کـه مقـام صابـران پـاداش عمـل عفـوی مـی شـود کـه خـود مصـداق صبـر حالـی وحالتـی بـوده اسـت وخداونـد(ج) در آیـات ۳۴و۳۵سـوره فصلـت صبـر را عاملـی بـرای گذشـت انسـانهادر برابـر بـدی هـا مـی شـمارد.

بسـیاری از مـردم در ایـن اندیشـه انـد کـه بتواننـد بـه مقامـات بلنـد انسـانی دسـت یابنـد واز فوایـد وآثـار آن بهـره منـد گردنـد، ایـن اشـتیاق در جوانـان بیشـتر از سـایر اقشـار مشـاهده مـی شـود از آنجائیکـه از نظـر بدنـی وآرزوهـا وآمـال در جایگاهـی قـرار دارنـد کـه هـر چیـزی را مـی جوینـد ودر پـی هـر نـام ونشـانی مـی رونـد تـا ناشـناخته هـارا کشـف ونایافتـه هـارا بیابنـد.

هـر کسـی کـه در پـی جسـتجوی حقیقـت ومقامـات وکمـالات انسـانی اسـت بـرای دسـت یابـی بـه ایـن جایـگاه راه عفـو وگذشـت اسـت.

جایـگاه عفـو وگذشـت در میـان فضیلـت هـا وارزش هـای انسـانی : خداونـد(ج) در سـوره بقـره عفـو وگذشـت بـه ویـژه در حـال قـدرت بـر انتقـام ومجـازات را مـی سـتاید وبـر کسـانی کـه در حـال قـدرت وتـوان از حـق خویـش مـی گذرنـد وبـا بزرگـواری چشـم بـر مجـازات مـی بنندآفریـن مـی فرسـتد وآنـرا بعنـوان امـر معـروف وهنجـاری پسـندیده ونیکـو مـورد تشـویق قـرار مـی دهـد. همچنـان قـرآن کریـم در سـوره بقـره وسـوره نحـل بـا آن کـه مجـازات برابـر را بعنـوان اصـل مقابلـه بـه مثـل تایـد مـی کنـد. ولـی بـا بیـان ایـن کـه عفـو وگذشـت یکـی از بهتریـن وکوتـاه تریـن راه هـا ی دسـت یابـی انسـان بـه تقـوا اسـت و مـی کوشـد تـا بیـان دارد کـه فضیلـت انسـانی نـه در انتقـام ومجـازات بلکـه در عفـو وگذشـت از دیگـری اسـت وشـرافت وکرامـت انسـانی نـه تنهـا اینگونـه حفـظ مـی شـود، بلکـه بـا ایـن روش شـخص مـی توانـد کنتـرل ومهـار خویـش را در دسـت گیـرد واحسـان ونیکـو کاری را بـر حسـن انتقـام مقـدم دارد . انسـان در عفـو وگذشـت اسـت کـه مـی توانـد ارزش وجایـگاه واقعـی خویـش را بـه دسـت آورد بـه ویـژه در سـختی هـا ماننـد مجـازات قاتلیـن ودر امـور مالـی در هنـگام تنگدسـتی فقیـران وبینوایـان خـودرا نشـان مـی دهـد، شـخصی کـه در اوج غضـب وانتقـام از جـرم قاتـل مـی گـذرد ویـا ز مـال خـود چشـم فـرو مـی بنـدد تـا تنگدسـتی را نیـازارد وبـا مطالبـه پـول ومـال خویـش اورا خـوار وذلیـل نکنـد در حقیقـت نـه تنهـا کرامـت وبزرگـواری خویـش را خریـده اسـت، بلکـه شـرافت وکرامـت انسـانی را بـرای همـگان حفـظ کـرده اسـت ونصیـب اجـر وپـاداش درنـزد خداونـد (ج) میگـردد. خداونـدج در سـوره شـورا عفـو واغمـاض از خطـای دیگـران واصـلاح بـدی آنـان را نیکـی دانسـته وگذشـت را موجـب پـاداش ویـژه خداونـد بـر مـی شـمارد ودر سـوره قصـص بـا ذکـر داسـتان مومنـان اهـل کتـاب کـه دریافـت کننـده دو اجـر وپـاداش بـرای تحمـل در برابـر کفـار وعفـو وگذشـت از آزار آنـان مـی باشـند توضیـح مـی دهـد، پـاداش مضاعفـی را بدسـت مـی آورنـد بهتریـن پـاداش واثـری کـه مـی تـوان بـرای گذشـت وعفـو بیـان کـرد آن اسـت کـه شـرایط بـرای عفـو وگذشـت خداونـد از خطاهـای انسـانی را فراهـم مـی آورد تـا ایـن گونـه در مسـیر ترحـم (رحـم کـن تـا رحـم شـوی )قـرار گیریـم .

خداوند(ج) می فرماید :

ترجمه:اگـر انسـان از جـرم هـا وگناهـان وخطاهـای کوچـک دیگـری چشـم پوشـی کنـد خداونـد از گناهـان وخطاهـای بـزرگ او چشـم پوشـی مـی کنـد واز مقـام عفـو وغفـران بـا او برخـورد مـی نمایـد.

در آیـات ۱۰۹سـوره بقـره و۱۴۹سـوره نسـاء اشـاره شـده کـه توجـه بـه قـدرت مطلقـه خداونـد زمینـه سـاز عفـو از رفتارهـای خطایـی دیگـران مـی شـود ودر آیـه ۸۵سـوره حجـر خداونـد مـی فرمایـد:

ترجمه:((عقیـده بـه قیامـت ورسـتاخیز وهدفـداری خلقـت وآفرینـش وحتمـی بـودن بازخواسـت ومحاسـبه زمینـه سـاز عفـو وگذشـت نیکـو از دیگـران اسـت.))

اگـر ایـن مـرز شکسـته شـود و قانـون تحـت عناوینـی از قبیـل عفـو و گذشـت بـه اجـرا در نیایـد زمینـه بـرای هـرج و مـرج و ناامنـی فراهـم شـده و ادامـه زندگـی بـرای مـردم دشـوار خواهـد شـد. قابـل ذکـر اسـت اصـرار اسـلام بـر عفـو و گذشـت در حقـوق شـخصی انسانهاسـت ، امـا اسـلام ترحـم و دلسـوزی بـر متجـاوزان حقـوق جامعـه را هیچـکاهـی نمـی پذیـرد وحـد شـرعی بـر آنهـا عملـی مـی شـود.

# حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه څنګه خلیفه شو؟

**زاهد نایل**

رسـول اکـرم صلـي اللـه علیـه وسـلم خپـل ژونـد کـې پـه صریحـو الفاظـو سـره څـوک د خلیفـه پـه حیـث نـه و ټاکلـی، امـا پـه ډېـرو ځایونـو کـې یـې داسـې الفـاظ کارولـي، یـا یـې لـه مبارکـې خولـې راوتلـي؛ چـې لـه هغـه څخـه د ابوبکـر صدیـق رضـي اللـه عنـه خلیفـه کېـدل څرګندېـږي. همدارنګـه کلـه چـې رسـول اللـه صلـي اللـه علیـه وسـلم لـه ناروغتیـا وروسـته لـه نـړۍ وکوچېـد، نـو پـه هماغـه ناروغـۍ کـې یـې ابوبکـر صدیـق رضـي اللـه عنـه د لمانځـه د امامـت لپـاره وړانـدې کـړ، چـې دا هـم د هغـه پـر خلیفـه کېـدو دلالـت کـوي.

حضـرت محمـد مصطفـی صلـي اللـه علیـه وسـلم چـې لـه نـړۍ رحلـت وکـړ، نـو اصحابـو کرامـو رضـي اللـه عنهـم د هغـه لـه تدفیـن نـه مخکـې د خلیفـه او امیـر ټاکلـو اهتمـام وکـړ، لـه انصـارو صحابـه کرامـو رضـي اللـه عنهـم د هغـه لـه تدفیـن نـه مخکـې د خلیفـه او امیـر ټاکلـو اهتمـام وکـړ، لـه انصـارو څخـه یـو شـمېر کسـان د بنـو سـاعده پـه سـقیفه (چوتـره) کـې راجمـع شـوي وو، ابوبکـر صدیـق، عمـر فـاروق او ابـو عبیـده رضـي اللـه عنهـم چـې لـه مهاجرینـو څخـه وو، دوی هـم ورغلـل، انصـارو ویـل؛ مخکـې د مشـرتوب چـارې رسـول اللـه صلـي اللـه علیـه وسـلم پـر مـخ وړلـې،نـو اوس دا زمـوږ حـق دی،چـې سـمبال یـې کـړو، د انصـارو او مهاجرینـو تـر منـځ خبـرې وشـوې، امـا ډېـر ژر ابـو عبیـده رضـي اللـه عنـه هغـه پـای تـه ورسـولې، نومـوړي وویـل: مـا لـه نبـي اکـرم صلـي اللـه علیـه وسـلم څخـه اورېدلـي چـې مهاجریـن بـه امیـران او مشـران وي او انصـار بـه د هغـوی مرسـتیاالان وي، انصـارو د هغـه (ابوعبیـده) خبـره تصدیـق کـړه، حضـرت عمـر رضـي اللـه عنـه ابوبکـر صدیـق رضـي اللـه عنـه تـه لاس ور اوږد کـړ او پـه ډېـر اخـلاص یـې بیعـت ورسـره وکـړ. وروسـته انصـارو او مهاجرینـو پـه ښـکاره لـه صدیـق اکبـر رضـي اللـه عنـه سـره بیعـت وکـړ او د خلیفـه لـه ټاکلـو وروسـته یـې خـاورو تـه د رسـول اللـه صلـي اللـه علیـه وسـلم د سـپارلو چـارې تـر سـره کـړې.

(د اصحابـو کرامـو لـه دې کاره داسـې جوتېـږي، چـې د خلیفـه تعیـن او نصـب لـه هـر څـه ډېـر مهـم دی).

د یادونـې وړ ده چـې د انصـارو او مهاجرینـو دا بیعـت یـو ځانګـړی بیعـت و او ټولـو مسـلمانانو پـه کـې شـرکت ونشـو کـړای، نـو پـه دوهمـه ورځ اصحـاب کـرام رضـي اللـه عنـه پـه نبـوي مسـجد کـې راغونـډ شـول او لـه لومـړي خلیفـه حضـرت ابوبکـر صدیـق رضـي اللـه عنـه سـره یـې عمومـي بیعـت وکـړ، کـه چېـرې کـوم کـس لـه بیعـت نـه پاتـې شـوی او بیعـت یـې نـه وي کـړی، نـو هغـه شـخص پـه کـوم نـاره اقـدام لاس نـه دی پـورې کـړی، نـه یـې لاریـون کـړی او نـه یـې د نـه منلـو اظهـار کـړی.

لـه عـام بیعتـه وروسـته حضـرت ابوبکـر صدیـق رضـي اللـه عنـه مسـلمانانو تـه وینـا وکـړه او خپلـه راتلونکـې کړنـلاره او تـګلاره یـې پـه کـې واضـح کـړه، هغـه وویـل: پـه اللـه جـل جلالـه قسـم زه لـه تاسـو څخـه غـوره او بهتـر نـه یـم او نـه د خلافـت لپـاره زه خپـل ځـان لـه تاسـو غـوره بولـم، زمـا هیلـه وه چـې لـه مـا پرتـه بـه تاسـو دا درونـد پېټـی پـه غـاړه واخلـئ. تاسـو بـه دا امیـد لـرئ چـې زه د رسـول اللـه صلـي اللـه علـيّ وسـلم د سـنتو مطابـق وچلېـږم، هغـه پـاک او معصـوم و، پریښـتې ورسـره وې، ولـې لـه مـا سـره شـیطان دی او هغـه کوښـښ کـوي څـو مـا لـه سـمې لارې وګرځـوي، نـو تاسـو ټـول هڅـه کـوئ، زمـا محاسـبه کـوئ، کـه چېـرې زه پـه سـمه لاره روان وم، زمـا مرسـته کـوئ او کـه بـې لارې شـوم، بیـا مـا سـمې نیغـې لارې تـه راواړوئ.

او دا وینـا یـې هـم پـه یـوه روایـت کـې راغلـې ده: اې خلکـو! زه ستاسـو حاکـم وګرځېـدم، پـه داسـې حـال کـې چـې زه لـه تاسـو څخـه غـوره نـه یـم، کـه چېـرې زه سـم کارونـه کـوم مرسـته مـې وکـړئ او کـه غلطـي رانـه وشـوه، نـو ماتـه نېغـه لاره وښـآیاسـت، رښـتیا امانـت او دروغ خیانـت دی. ستاسـو کمـزوری او ناتوانـه زمـا پـه وړانـدې قـوي او پیـاوړی دی، څـو د هغـه حـق ورتـه وسـپارم او ستاسـو قـوي او پیـاوړی زمـا پـر وړانـدې کمـزوری دی، تـر هغـه پـورې څـو د مظلـوم حـق تـرې واخلـم!

همداراز هغـه مبارک زیاتـه کـړه: کـوم قـوم چـې جهـاد پرېښـی فقـر او ذلـت پـرې نـازل شـوی او پـه کـوم قـوم کـې چـې بـې حیایـې خپـره شـوې، اللـه تعالـی پـر هغـوی بانـدې غمونـه او مصیبتونـه راولـي، تـر څـو چـې زه د رسـول اللـه صلـي اللـه علیـه وسـلم پـر سـنتو عمـل کـوم، زمـا خبـره اورئ او منـئ یـې او چـې کلـه لـه هغـه (سـنتو) کـوږ شـوم، زمـا اطاعـت پـر تاسـو واجـب نـه دی. پاڅېـږئ لمونـځ اداء کـړئ، اللـه تعالـی دې رحـم دربانـدې وکـړي.

صدیـق اکبـر رضـي اللـه عنـه لـه ټولـو اصحابـو کرامـو څخـه غـوره و، ځکـه،خـو د خلافـت لپـاره غـوره شـو او هېچـا یـې هـم مخالفـت ونـه کـړ. بـل دا چـې وینـا یـې هـم تاریخـي وینـا وه او د هغـې مطابـق یـې د خلافـت چـارې پـر مـخ یـوووړلـې.

ابوبکـر صدیـق رضـي اللـه عنـه د لویـو اصحابـو کرامـو رضـي اللـه عنهـم لـه خـوا د خلافـت لپـاره غـوره کـړل شـو او ده پـه ډېـر اخـلاص دا درونـد بـار پـه ښـه شـان اوچـت کـړ. رضـي اللـه عنهـم

## حکومتي چارواکي په هېوادوالو ته اسانتیاوي...

مولوي عبدالسلام حنفي ویلي؛ د امنیت تامین او خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول د اسلامي امارت له مسوولیتونو څخه دي، د خوښۍ ځای دی، چې د اسلامي امارت مسولین توانېدلي چې ولسونو ته هوساینه او امنیت تامین کړي.
د ریاست الوزرا اداري مرستیال زیاته کړې؛ معیاري مواصلاتي لارې، ښوونه او روزنه، روغتیا او برېښنا د ټولو خلکو اړتیا ده او د اسلامي امارت مسولین به د خپل توان په محدوده کې د دغو اسانتیاوو د چمتووالي په برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي.

## یک تاجر عودت کننده؛ وضعیت موجود درکشور ...

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا با نشر این خبر گفته است: مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا با محمد فرشید حکیمیار یکتن از تاجران عودت کننده دیدار نمود.
در این دیدار که الحاج نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت و رئیس کمیتهٔ ایجاد تسهیلات برای تاجران عودت کننده کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین نیز حضور داشت، محمد فرشید حکیمیار گفت: در حال حاضر زمینه تجارت و سرمایه گذاری در کشور فراهم شده و تاجران می توانند با استفاده از وضعیت موجود و امنیت حاکم در کشور، در عرصه های مختلف مانند استخراج معادن، ترانزیت، انرژی.تکنالوژی و زراعت سرمایه گذاری کنند که این امکان بدون سعی و تلاش امارت اسلامی امکان‌پذیر نبود.
مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا گفت: امارت اسلامی تسهیلات لازم را برای تاجران و سرمایه گذاران خصوصاً تاجران عودت کننده. فراهم کرده و آنان بدون هیچ گونه تشویش میتوانند به کشور برگردند به کارو تجارت بپردازند. معاون اداری ریاست الوزرا افزود: توزیع زمین در پارک‌های صنعتی و توزیع زمین رهایشی برای تاجران عودت کننده، معافیت مالیاتی و توزیع ویزه تجارتی از جمله سهولت های است که کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات برای آنان در نظر گرفته است که تجار ما باید از آن سود برند.

## دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیم...

چهار ولایت هر کدام از پیشرفت کارکرد ادارت مربوط معلومات دادند، نظر و پیشنهاد ها ودرعین حال پاره از مشکلات شان را بیان داشتند و خواستار حل آن شدند.
سرپرست وزارت معادن و پترولیم تأکید روی شفافیت و پیشرفت کار نموده و هدایات لازم را در زمینه صادر کرد.

## د تورخم ګمرک یوه اندازه قیمتي او نیمه...

دغه درمل په یوه لارۍ کې ځای پرځای شوي او غوښتل يې پرته له مالیاتي ټکس څخه يې افغانستان ته را انتقال کړي، چې د مسوولینو له لوري د پلټنې پرمهال نیول شوي دي.
د یو بل خبر له مخې؛ د یاد ګمرک مسوولینو د پلټنو پر مهال په یوه لارۍ موټر کې ٦ پاکټه ۴،۴ کیلو ګرامه نیمه قیمتي او په ۲ نورو موټرو کې ٦۲،۸ کیلو ګرامه قیمتي او نیمه قیمتي او سنګ تالک تېرې په کې بار وې، کشف او نیولې دي.
د تورخم ګمرک مسوولین وایي؛ هېڅوک ته به اجازه ورنه کړي، چې هېواد ته غیر قانوني توکي را وارد او یا قاچاق کړي.

## فراه کې د اقصي په ډیزاین...

ته څېرمه د هوایي ډګر په څلور لارې کې په شاوخوا سیمه کې د جومات د نه شتون او د ولسي وګړو ستونزو ته په کتو سره د باران رحمت خیریه بنسټ په همکارۍ رغول کېږي.
له بلې خوا د باران رحمت خیریه بنسټ مؤسس او ملي سوداګر عبدالحمید «شریفي» بیا یاد جومات د فلسطین له مظلوم ولس څخه ملاتړ وباله او زیاته یې کړه، چې په دې سره به د فلسطیني وګړو یاد تل ژوندی وي.
نوموړي همدارنګه زیاته کړه، چې د باران رحمت خیریه بنسټ له کلونو راهیسې په بېلابېلو برخو کې د فراهي وګړو تر څنګ ولاړ دی او خپلو همکاریو ته به لا هم دوام ورکړي.

## هفته گذشته بیش از ۹۲هزار متریک تُن..

که شامل اموال نفتی، غیرنفتی و سایر مواد می‌شود، به کشور وارد و صادر شده‌است.
این اداره هم‌چنان افزود، در مجموعه انتقالات یک‌قسمت آن ترانزیت و صادرات بوده که در هفته قبلی دوهزار ۲۴۷ تُن اموال تجارتی ترانزیت و صادر شده که مقدار زیاد آن کینو، کچالو، میوه خشک و جوس آنار است.
این درحالی است که اداره خط آهن افغانستان تلاش می‌نماید تا شرایط مناسبی را برای انتقالات و سهولت‌های بهتری را برای تاجران و سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی فراهم نماید.

## د کندز یو شمېر اوسېدونکو ...

دغه اوسېدونکي وایي، چې اسلامي امارت باید پر دغه سیند باندې یو پُل جوړ کړي، ترڅو له دغو ستونزو څخه د تل لپاره خلاص شي.
د لاله میدان اول د سیمې یو تن اوسېدونکي حاجي باز محمد له باختر اطلاعتي آژانس سره په مرکه کې ویلي دغه نهر چې د علي‌آباد او لاله میدان د کلي ترمنځ پروت دی، شاوخوا ۷۰ کاله کېږي چې پُل نلري او د دغې سیمې اوسېدونکي د کېمې په واسطه له سیند څخه تېرېږي.
باز محمد له اسلامي امارت څخه غواړي، چې دوی ته پر دغه سیند باندې یو اساسي پُل جوړ کړي، ترڅو د دوی شته ستونزې حل شي.
دغه راز په کندز کې د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست د انجنیرۍ برخې مسوول انجنیر عتیق‌الله جلیل د دغې سیمې د اوسېدونکو ستونزې مني او وایي چې یاد ریاست په راتلونکي ۱۴۰۳ کال کې د لاله میدان اول په سیمه کې د یو پُل جوړېدو سروې کوي او وروسته به یې چارې پیل کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست لخوا په روان کال کې د کندز په مختلفو سیمو کې شاوخوا ۷۰ عام‌المنفعه پروژې د ۲۴۷ میلیونه ۲ سوه او ۲۵ زره او ۶۲۴ افغانیو په ارزښت پلې کړې دي.

## د غور مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست ...

د باختر آژانس خبریال ته وویل چې د روان کال د ورې میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د سلواغې میاشتې ترپایه پورې دوی توانېدلي چې د مخابراتي خدمتونو، د ادارو پاسپورټونو د وېش او دغه شان د یاد ریاست زده کړې مرکز له لارې ۵ میلیونه ۲۵۶ زره ۴۰۰ افغانۍ عواید راټول او د دولت خزانې ته یې سپارلي دي.

## سرمایه‌گذاری یک صدوچهل میلیون دالری...

ازاین میان، کاربهره گیری ازبیست وشش معدن درهرات، ادامه دارد.
رییس معادن هرات می گوید که آنان تلاش می‌کنند تا تمامی معادن‌را سروی و به قرارداد بسپارند و زمینه سرمایه‌گذاری برای تجار را در این ولایت فراهم سازند.

## هدف ما توسعه پایدار شهر کابل و دیگر...

انجنیران شاروالی کابل روی جزئیات چارچوب طراحی شده شهر کابل که از سوی موسسه ساساکی ترتیب شده است معلومات دادند و همچنان پیرامون برنامه «چارچوب شهری» که از سوی جایکا ترتیب شده، نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفت.
شیخ مدارعلی کریمی بامیانی گفت: هدف ما توسعه پایدار شهر کابل ودیگر شهرهای کشور است، لذا باید مزایا و نواقص هر دو برنامه انکشافی را دقیق بررسی کنیم و از این دو، بهترین پلان انکشاف شهر کابل را مدنظر گیریم.
داکتر تاجیک گفت: پلان انکشافی شهر کابل باید مشکلات گذشته را رفع سازد و چشم انداز و راه آینده را باز نماید وشهرکابل با توجه به رشد جمعیت و زمینه توسعه شهری، توسعه یابد.
دراین نشست فیصله برآن شد که در مورد انکشاف شهر کابل روی هر دو طرح بیشتر مطالعه شود وبعد از تصمیم نهایی، گزارش آن به کابینه ارائه شود.

## د ملت او حکومت ترمنځ همغږي ...

کرامو په میدان وردک ولایت کې د پوهنې، روغتیا او سړکونو رغولو په برخو کې د پراختیایي پروژو عملي کېدو غوښتنه کړې او ویلي یې دي؛ د میدان وردګو ولایت اوسېدونکو د جهاد په کلونو کې سختې قربانۍ ورکړې او اړتیا ده، چې مجاهدینو، یتیمانو او کونډو ته یې هم ځانګړې پاملرنه وشي.
مولوي عبدالکبیر ویلي؛ د اسلامي نظام په ټینګښت کې د میدان وردګو ولایت د ولسونو قربانۍ د هېرولو نه دي.
نوموړي زیاته کړې؛ اسلامي امارت د ولسونو له منځه راپورته شوی او په ولسونو کې ژورې ریښې لري.
د ملت او اسلامي امارت ترمنځ واټن نشته، همغږي او همکاري پراخه ده او اسلامي امارت د ولسونو خدمت خپل مکلفیت ګڼي.
د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال ډاډ ورکړی، چې د میدان وردګو ولایت د اوسېدونکو د ستونزو پر حل به د غور ترڅنګ اړوندو ادارو ته یې هم د حل سپارښتنه وکړي.

## سرپرست وزارت صحت عامه؛ حقوق کارکنان...

شفاخانه ملی و تخصصی استقلال دیدن نمود.
او از کارکردهای کارمندان صحی این شفاخانه قدر دانی کرد و از آنان خواست تا خدمات شان را گسترش دهند، داکتر عباد همچنان گفت که به فکر انکشاف ظرفیت ها هستیم و تعداد ازداکتران را غرض تحصیلات تخصصی به کشور های مختلف اعزام داشته ایم.
سرپرست وزارت صحت‌عامه در مورد معاشات کارمندان صحی گفت: ما لایحه ای را براساس یک برنامه منظم تنظیم نمودیم که بر اساس آن در سال آینده حقوق تمامی کارمندان صحی بر اساس داشته علمی شان افزایش می‌یابد
داکتر قلندرعباد همچنان، از عرضه خدمات صحی و بخش های شفاخانه ۱۰۰ بستر دشت برچی نیر دیدن نموده و به کارمندان صحی این شفاخانه در قسمت ارایه خدمات صحی بهتر به نیازمندان هدایات لازم داد.

## ایران په فرهنګي او تحصیلي بورسونو کې...

د ګرځندوی رئیس مولوي سید محمد سعید او د افغانتور دولتي شرکت رئیس محمد نبي بها هم حاضر وو؛ د ځمکنۍ او هوایي ویزو او د ویزې د بیې په برخه کې پر شته ستونزو او ننګونو، د ځمکنیو ویزو غوښتونکو ته د زیاتو آسانتیاوو برابرولو او نورو اړوندو موضوعاتو خبرې وشوې.
د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري معین، د ځمکنیو ویزو غوښتونکو ته د زیاتو آساتیاوو برابرولو په اړه معلومات ورکړل او د یادو ستونزو د حل په برخه کې یې د همکارۍ ډاډ ورکړ.
په کابل کې د ایران سفارت فرهنګي اتشه هم، د یادو ستونزو د رسېدنې په لاره کې د خپل هېواد د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ او د ایران او افغانستان ترمنځ د فرهنګي او ګرځندوی د تجربو شریکولو او همدارنګه د تحصیلي بورسیو د ورکړې په برخه کې یې د همکارۍ ژمنه وکړه.

## لغمان کې ۲ چک ډیمونه...

سیمو کې د ٦ میلیونه افغانیو په لګښت پرون د ۲ چک ډیمونو د رغولو چارې پیل شوې دي.
د لغمان مرستیال والي مولوي اخترمحمد مزمل د باخترآژانس خبریال ته ویلي چې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د حکم له مخې د هېواد په کچه د وچکالۍ د مخنیوي په موخه د چک ډیمونو د رغونې حکم چې د لغمان د هرې ولسوالۍ لپاره یو چک ډیم چې په ټوله ۵ چک ډیمونه کېږي منظور شوي او چارې به یې په شپږو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
په ورته وخت کې د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوي محمد ولي محسن ویلي چې د یادو چک ډیمونو په رغېدو سره به له یوخوا د خاورې د تخریب مخنیوی وشي او له بلې خوا به د باران او سېلابونو اوبه ذخیره شي.
همداراز د کرنې وزارت اړوند په کرونده کې د اوبو تنظیم او د اوبو لګولو د نویو تکنالوجیو د رواجولو مسؤل مولوي معاذالله عادل وویل چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري د کرنې وزارت په چوکاټ کې په ټول هېواد کې ۴۲۰ چک ډیمونه منظور کړي، چې لغمان ولایت یې هم برخمن او پنځه چک ډیمونه ورته منظور شوي دي.

## فراه کې سړک بیا..

نورو رغنیزو پروژو د لوړ او بشپړ کیفیت د ډاډ ترڅنګ د ولایت مقام او نورو همکارو ادارو د ټیمونو له لوري له پلې شویو پروژو څخه د دوامدارې څارنې خبر هم ورکړ او ویې ویل چې د ټولو پروژو اړوند توکي لابراتوار شوي دي.
له بلې خوا د فراه ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس محمد عبدالحي «سباوون» ویلي چې په ټولو ښارونو کې د اسلامي امارت په راتلو سره د رغنیزو پروژو چارې په چټکۍ سره پیل شوې دي، دا ځکه چې د پخوا په پرتله اوس په ټولو مالي او اداري چارو کې بشپړه روڼتیا رامنځته شوې او اداري فساد له منځه تللی دی.

## د ملي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره...

مصرفېدل، چې تدریجا یې دا زیارکښ ملت تیارخورۍ ته ورټېل واهه او د ژوند هره برخه یې وارداتي سامانو پورې وتړل شوه- اوس چې د څښتن تعالی په لوی فضل افغان ولس خپلواکي ترلاسه او دنظام په هیڅ برخه کې د خارجي سلاکارانو د مشورو یا پردیو د فشارونو څه مجال نشته، سراسري امنیت ټینګ شوی او د حکومت هره وړه او ستره اداره فقط پرخپلو موجودو وسایلو اټکل او محاسبه کوي، نو لازمه ده چې په لومړي سرکې د خپلو ملي پیسو د قیمت ساتنې، ثبات او ترویج لپاره هم اړین ګامونه واخیستل شي- داچې افغانۍ زموږ ملی سکه او د تاریخي هویت یوه مهمه نښه ده نو په کارده چې حکومت او رعیت په ګډه د دې ارزښت وساتي، له نوساني حالته یې وژغوري او داسې ثبات ورکړي چې هیڅ پانګوال یې نه په ساتنه اوزېرمه کولو کې اندېښمن وي او نه په معاملاتو کې نغد او پورته غمجن. له بده مرغه تېرو شلو کلونو کې سره له دې چې ډېرې هېوادوالو د خپلو ملي پیسو د ارزښت، ثبات او ترویج پوره لېوالتیا لرله خود بهرني اشغال په سیوري کې یوشمېر بهرنیو او کورنیو مافیایي کړیو د افغانیو د بې ارزښته کولو او ډالرو ترویجولو په موخه څو ډوله شیطاني پلانونه ترلاس لاندې نیولي او د افغان ولس د شتمنیو تروړلو ته دوام ورکړی وو- البته د اسلامی امارت مسوولین د غې ستونزي ته کاملا متوجه او د دغسې ملی خیانتونو د مخنیوي لپاره ترخپلې وسې هڅه هاند کوي چې دادی تر ډېره حده یې افغانیو ته ثبات هم په برخه شوی دی- خو بیاهم ځینې چارې نیمګړتیا لري او بشپړه بریا نه ده تر لاسه شوې- د مثال په ډول د ترویج په برخه کې یې د هېواد جنوبي سیمې لاهم ډېر مشکلات لري- بنا پردې ضروري ده چې سیمه ایز چارواکي دې موضوع ته ښه پام لرنه او د بهرنیو اسعارو د چلند کلک مخنیوی وکړي- دغه راز د ځینو راپورونو په اساس له هېواد نه د ډالرو قاچاق لاهم روان دی چې طبعا دلته یې دګرانېدو لامل ګرځي.
نو باید چې په دې هکله هم لازم اقدامات وشي- سربېره پردې ډېرې سوداګر که څه هم کورني تولیدات پلوري، په دې ناوړه احساس چې ډالر ګران دی، خپلې ملي پیسې بې ارزښته کوي او د ځاني ګټې لپاره یوه لارجوړوي- په دې اساس دغه د ډالرو زیاته کارونه او ورباندې ډېر حساب کول هم د افغانیو د بې ثباتۍ لامل ګرځي او په دې توګه بیانو لږ خلک په دې پیسو لویو معاملوته زړه ښه کولی شي- لنډه داچې دغو ګردو مواردو کې د حکومتي چارواکو له خوا جدي هڅو ته اړتیا لیدل کیږي، هغه که تبلیغاتي وي، تخنیکي وي او که تریوحده د زور او فشار کارول وي – ښایي په دې توګه اقتصادي برخه کې د هېوادوالو دغه ستونزه هم اوراه او مالي تعاملاتو کې بشپړ اطمینان ترلاسه کړي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 26 Febuary 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 390

# له ترکمنستان سره پر دوه اړخیزو مسائلو بحث کېږي




د هېواد د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیر خان متقي پرون د یوه پلاوي په مشرۍ، ترکمنستان ته په رسمي سفر روان شو.

د بهرنیو چارو وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي دي: «د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیر خان متقي د یوه پلاوي په مشرۍ، د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر رشید مُردوف په بلنه، پر ګڼو دوه اړخیزو مسائلو د خبرو اترو په موخه هغه هېواد ته په رسمي سفر روان شو.»

ویل شوي چې په یاد پلاوي کې د بهرنیو چارو وزارت د سرپرست ترڅنګ، د کانونو او پټرولیم وزارت، د افغانستان اوسپنې پټلۍ ادارې او د افغانستان برېښنا شرکت مسئولین هم شامل دي.

## یک تاجر عودت کننده؛ وضعیت موجود درکشور را برای رشد سرمایه گذاری مثبت خواند



معاون اداری ریاست الوزرا در دیدار با یک تاجر عودت کننده گفت: امارت اسلامی تسهیلات لازم را برای تاجران و سرمایه گذاران عودت کننده فراهم کرده است. ص۵

## دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیم با شماری از رؤسای ولایتی آن وزارت

شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم با رییسان معادن وپترولیم ولایت های نورستان، لغمان، ننگرهار و کنر دیدار کاری انجام داد.

در این دیدار، روی فعالیت‌ها، پیشرفت‌ها و استخراج معادن ولایات متذکره به ویژه سنگ‌های قیمتی و نیمه قیمتی، زرشویی ولسوالی های کنر و طرزالعمل زرشویی بحث و تبادل نظر شد.

رییسان معادن این ... ص۵

## فراه کې د اقصی په ډیزاین جومات جوړېږي

د فراه ولایت ځايي مسوولین وایي چې په دغه ولایت کې د اقصی جومات په ډیزاین د یوه جومات د جوړولو چارې پیل شوې دي.

د فراه والي مولوي غوث الدین رهبر د باخترآژانس خبریال ته ویلي چې د یاد جومات نقشه او ډیزاین د مسلمانانو لومړنی قبلې ( بیت المقدس) ته ورته دی چې د باران رحمت خیریه بنسټ له لورې د ۲ میلیونه افغانیو په لګښت جوړېږي، چې د ۲۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت به ولري.

په ورته وخت کې د فراه ښاروال مولوي محمد ولي ادریس وویل چې یاد جومات فراه ښار... ۵مخ

## د تورخم ګمرک یوه اندازه قیمتي او نیمه قیمتي تیږې نیولې



د تورخم ګمرک امر انجنیر رفیع الله پاچا خان باختر آژانس ته ویلي، چې امنیتي مسوولینو هغه ۱۵۲ کیلو ګرامه طبي درمل، چې په غیر قانوني ډول افغانستان ته راانتقالېدل، نیولي دي.

د نوموړي په وینا؛... ۵مخ

## اداره خط و آهن افغانستان:

## هفته گذشته بیش از ۹۲هزار متریک تُن انتقالات صورت گرفته است




اداره خط و آهن کشور می‌گوید، از طریق خطوط آهن در سرتاسر افغانستان، هفته گذشته از تاریخ ۲۷ دلو الی ۳ حوت ۱۴۰۲هـ.ش. ۹۲هزار ۲۳۳ متریک تُن انتقالات صورت گرفته است.

به‌گفته این اداره، در این میان از طریق خط آهن حیرتان ۷۵هزار و ۶۹۸ تُن، خط آهن آقینه پنج‌هزار و ۵۴ تُن و خط آهن تورغندی ۱۱هزار و ۴۸۱ تُن، مجموعاً ۹۲هزار ۲۳۳ متریک تُن... ص۵

## ضبط یک مقدار اموال وارداتی قاچاق به کشور

کارمندان مراقبت سیار گمرکات، یک مقدار اموال را که به شکل قاچاق وارد کشور شده بود، ضبط کردند.

به گزارش آژانس باختر؛ قاچاقچیان این اموال را، از مرزهای کندهار، هرات و نیمروز به کشور وارد کرده بودند.

اموال ضبط شده شامل ۳ هزار و۵۵۲ کیلو گرام دوای طبی ، یک هزار و۷۸۰ کیلو گرام دوای حیوانی، ۱۲ کارتن مواد مخدر ممنوعه و۳ هزار و ۷۰۰ کیلو گرام رخت است که به گمرکات ولایت های یادشده تسلیم داده شده است.

## کندز یو شمېر اوسېدونکو د پل جوړېدو غوښتنه کړې



د کندز ولایت د علي‌آباد ولسوالۍ د لاله میدان اول کلي اوسېدونکي له باختر خبري آژانس سره په مرکه کې ویلي، چې له نېکه مرغه د اسلامي امارت په حاکمیت سره په ټول هېواد کې په ځانګړې ډول کندز ولایت کې ډاډمن امنیت رامنځته شوی، خو د دغه لوی نعمت سره سره د دغې سیمې اوسېدونکي له ۷۰ کلونو راپدېخوا د کېمې په واسطه له سیند څخه هغې غاړې ته اوړي. ۵مخ

## معین وزارت شهر سازی و مسکن :

## هدف ما توسعه پایدار شهر کابل و دیگر شهرهای کشور است


معین وزارت شهر سازی و مسکن درنشست انکشاف شهرکابل گفت: هدف ما توسعه پایدار شهر کابل و دیگر شهرهای کشور است

دفتر مطبوعاتی وزارت شهر سازی و مسکن دیروز با ارسال این خبر به آژانس باختر نگاشته است:

نشست با حضور داشت شیخ مدارعلی کریمی بامیانی معین امور شهری وزارت شهرسازی و مسکن و داکتر صدرالدین تاجیک معین پلانگذاری و توسعه شهری، شاروالی کابل برگزار شد.

در این نشست، ... ص۵

## د غور مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست څه باندې ۵ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي




د غور د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست د روان کال په تېرو ۱۱ میاشتو کې څه باندې ۵ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي.

د غور د مخابراتو اومعلوماتي ټکنالوژۍ رییس مولوي محمد یوسف راهنما ... ۵مخ

# رویدادهای خارجی

## ډاډګیرنه؛ د نړۍ ځینو مشرانو کیيف ته سفر کړی و



داسې حال کې چې د فبرورۍ ۲۴ مه پر اوکراین د روسیې د برید دوه کاله پوره شول، د کاناډا، ایټالیا او بلجیم لومړي وزیرانو او د اروپايي کمیسیون مشرې پر همدې ورځ د اوکراین پلازمینې کیف ته سفر کړی و.

د رسنیو د راپورونو له مخې دوی له پولنډ څخه د ریل ګاډي په وسیله کیف ته ورغلي وو او هلته یې له زیلنسکي سره د کتنې پر مهال کیف سره د خپل ملاتړ د دوام ډاډ ورکړی دی.

د روسیې او اوکراین ترمنځ روانې جګړې کې تر دا مهاله زرګونه کسان وژل شوي او همدومره نور ټپیان شوي دي.

د امریکا متحده ایالاتو شمېرې ښیي، چې دغې جګړې کې ۷۰ زره اوکراینیان وژل شوي، خو د بي بي سي خبري شبکه بیا دغه شمېر ۱۱۰ زره یادوي.

ورته وخت کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو اداره وایي، د اوکراین په روانې دوه کلنې جګړې کې تر اوسه ۱۰ زره ۶ سوه ملکي وګړي وژل شوي او کابو ۲۰ زره کسان ټپیان شوي دي.

## غزه کې یو اسرائیلي سرتېري ته مرګ ژوبله اوښتې

د اسرائیلو صهیونست پوځ پرون یکشنبې غزه کې د خپل یو بل سرتېري د وژل کېدو او د درې نورو هغو د سخت ټپي کېدو خبر ورکړی دی.

دې سره په روانه مخامخ جګړه کې د وژل شویو اسرائیلي سرتېرو شمېر ۲۳۵ او د تېر کال د اوکتوبر پر اوومه د حماس په ناڅاپي برید کې د وژل شویو صهیونیست پوځیانو په ګډون د ټولو هغو شمېر بیا ۵۳۵ تنو ته رسېدلی دی.


د روانې جګړې پر لومړۍ ورځ(اوکتوبر اوومه) د حماس په یرغلیز برید کې ۳۰۰ صهیونیست سرتېري وژل شوي وه.



## سخنگوی حوثی‌ها:
## تا زمانیکه اسرائیل به غزه حمله می کند به حملات علیه کشتی‌ها ادامه می‌دهیم

وزارت دفاع امریکا می‌گوید که ارتش این کشور و نیروهای بریتانیایی علیه ۱۸ سایت حوثی‌ها در یمن حملات هوایی تازه‌ای انجام داده‌اند که چهارمین عملیات مشترک دو کشور علیه این گروه تحت حمایت ایران است.

پنتاگون می‌گوید که حملات شنبه شب علیه یک تاسیسات ذخیره موشک، پهپاد، سامانه‌های دفاع



هوایی، رادارها و یک هلیکوپتر انجام شد.

بریتانیا گفت که هدف این عملیات «تحلیل بیشتر» توانایی‌های حوثی‌ها بود.

در اولین واکنش به این حملات یحیی سریع، سخنگوی حوثی‌های یمن در یک سخنرانی تلویزیونی اعلام کرد که این گروه به حملات خود علیه کشتی‌ها در دریای سرخ ادامه خواهد داد.

آقای سریع گفت حملات این گروه به کشتی‌ها در دریای سرخ تا زمانیکه اسرائیل به غزه حمله می‌کند، ادامه خواهد یافت.

## پیروزی دونالد ترامپ در رقابت درون حزبی جمهوری‌خواهان در کارولینای جنوبی

دونالد ترامپ در انتخابات مقدماتی حزب جمهوری‌خواه در کارولینای جنوبی در مقابل نیکی هیلی، تنها رقیب خود، برنده شد و با این پیروزی یک قدم دیگر به نامزدی برای حزبش در انتخابات ریاست جمهوری آتی آمریکا نزدیک‌تر شد.

آقای ترامپ با اختلاف ۲۰ امتیازی، چهارمین پیروزی متوالی خود را به دست آورد.

رئیس جمهور سابق آمریکا در جشن پیروزی خود و در آغاز سخنانش گفت «این (جشن پیروزی) کمی زودتر از آن است که انتظارش را داشتیم.»

سی‌بی‌اس، شریک کاری بی‌بی‌سی در آمریکا، و سایر رسانه‌های عمده این کشور دقایقی بعد از پایان رای گیری پیروزی آقای ترامپ را پیش‌بینی کرده بودند.